OULUN KAUPUNGINKIRJASTO-MAAKUNTAKIRJASTO

pst

# د کتابتون کاروونکو لپاره مرستې (خدمتونه)

هر کس په وړیا توګه سره کتابتون ته راتلی شي او ورڅخه کار اخیستلی شي.

د اوولو ښار کتابتون په لوی کتابتون او د ګاونډ سیمو په بېلابېلو کتابتونونو کښې فعالیت کوي.
ګرځنده کتابتون هغو سیمو ته ځي چېرته چې کتابتون نشته.
تاسو کولی شئ چې په کتابتون کښې د ننه مجلې یا کتابونه ولولئ یا یې په پور واخلئ او کور ته یې درسره یوسئ.
تاسو کولی شئ چې کمپیوټر او انټرنیټ څخه هم کار واخلئ.

کتابتون کوچنیانو، ځلمو وګړو او لوی کسانو ته مرستې وړاندې کوي.

کتابتونونو کښې هر ډول مواد شته دی:
- غیر افسانوي کتابونه
- ناول، شعري کتابونه او انځوریز کتابونه
- کارټونونه
- ورځپاڼې او مجلې
- د موسیقي سي ډي ګانې
- پاڼیز موسیقي (sheet music)
- ډي وي ډي فلمونه
- د ژبې درسونه
- سي ډي–روم پوستکالي (CD-ROM software)
- غږیز کتابونه.

کتابتونونه په فنلېنډي، سویډي او ډېرو نورو ژبو کښې مواد لري. کتابتون کېدی شي چې ستاسو په ژبه کښې هم کتابونه ولري.

**کتابتون څخه به څنګه کار واخلئ**

تاسو کولی شئ چې په کتابتون کښې کتابونه ولولئ، معلوماتو په اړه پلټنه کړئ یا کمپیوټر څخه کار واخلئ.
تاسو د موسیقي په ځانګه کښې موسیقي هم اورېدلی شئ.

کتابتون د لوست او زده کړې لپاره یو هوسا ځای دی. د کتابتون څخه کار اخیستونکي نور وګړي لپاره ګډوډي مه رامینځ ته کوئ.

د مرستې لپاره د کتابتون کارکوونکو څخه پوښتنه وکړئ. هغوی به تاسو سره د کتابتون کارولو کښې مرسته وکړي. هغوی به تاسو سره د مواد او معلوماتو موندلو کښې هم مرسته وکړي.

**په پور اخیستل**

تاسو کولی شئ چې د کتابتون څخه کتابونه او نور مواد په پور واخلئ.

د کتابتون څخه مواد په پور اخیستلو لپاره تاسو د کتابتون کارت ته اړتیا لرئ. هر څوک چې په فنلېنډ کښې اوسېږي د کتابتون کارت ترلاسه کولی شي. تاسو کولی شئ چې خپل پاسپورټ یا د پېژندنې کارت د کتابتون کارکوونکو ته څرګندولو سره د هغوی څخه د کتابتون کارت تر لاسه کړئ.

که تاسو د 18 کلن عمر څخه وړوکي وئ، نو تاسو به د خپل مور پلار یا د ساتونکي څخه اجازې ته اړتیا لرئ.

د کتابتون کارت نه پرته تاسو نشئ کولی چې مواد په پور واخلئ. یاد ساتئ چې کله هم کتابتون ته راځئ نو خپل کارت د ځان سره راوړئ.

تاسو کولی شئ چې د کتابتون چارواکي (librarian) څخه یا په پور ورکوونکي ماشین (lending machine) کارولو د لارې مواد په پور واخلئ.

د کتابتون کارت ځاني (شخصي) وي. نور وګړي اجازه نهٔ لري چې ستاسو د کتابتون کارت څخه کار واخلي. ستاسو کارت سره چې کوم مواد په پور اخیستل شوی وي د هغو په اړه تاسو مسؤل یاست. که تاسو څخه خپل کارت ورک شي یا تاسو خپل استوګنځی بدل کړی او بل ځای ته لاړ شئ، نو یاد وساتئ چې کتابتون ته خبر ورکړئ.

**پهٔ پور اخیستنې موده**

د کتابونو لپاره د پور اخیستنې موده پهٔ عمومي توګه څلور اوونۍ وي. د موسیقي، ډي وي ډي فلمونو او سي ډي-روم پوستکالیو لپاره د پور اخیستنې موده کېدی شي چې دې نه لنډه وي.

تاسو چې څهٔ مواد پهٔ پور اخلئ د هغو پهٔ اړه به رسید درکولی شي. پهٔ دغه رسید کښې هغه مواد چې تاسو پهٔ پور اخیستی وي او دا چې دغه مواد باید کله بېرته راوړی شي څرګند شوي وي. که چېرې تاسو پهٔ پور اخیستل شوي مواد د هغه نېټې نه وروسته بېرته راوړئ چې پهٔ رسید باندې ښودل شوی وي، نو تاسو باید کتابتون ته فیس ادا کړئ.

تاسو د نور اوږدې مودې لپاره مواد پهٔ پور اخیستلی شئ که چېرې تاسو کتابتون ته ټېلیفون وکړئ یا خپل پهٔ پور اخیستل شوي مواد پرکرخه (online) بیا نوي کړئ.
که تاسو غواړئ چې پرکرخه خپل پهٔ پور اخیستل شوي مواد بیا نوي کړئ، نو تاسو به پټ ټکي (password) ته اړتیا ولرئ. تاسو د کتابتون څخه پټ ټکی ترلاسه کولی شئ.
که چېرې مواد بل چا ځان لپاره ټاکلی وي، نو بیا به تاسو خپل پهٔ پور اخیستل شوي مواد بیا نوی نهٔ کړی شئ.

**مواد بېرته راوړل**

تاسو کولی شئ چې مواد د اوولو ښار کوم یو کتابتون ته هم بېرته وسپارئ. کله چې مواد بېرته کتابتون ته سپارئ نو تاسو خپل د کتابتون کارت ته اړتیا نهٔ لرئ.

**مواد ځان لپاره ټاکل**

که چېرې یو کتاب یا نور مواد بل چا پهٔ پور اخیستی وي، نو تاسو کولی شئ چې پهٔ کتابتون کښې یا پرکرخه د انټرنیټ د لارې دغه مواد ځان لپاره وټاکئ. کتابتون به تاسو ته خبر در ولېږي چې دغه مواد به کله شتونتیا ولري. مواد ځان لپاره ټاکلو پهٔ اړه د ټاکنې پیسې اخیستلیې شي.

**پهٔ کتابتون کښې واقعیات**

کتابتون د خپلو ویپارانو لپاره ننداړتونونه او واقعیات انتظام کوي.
که تاسو د دغو واقعیاتو پهٔ اړه نور معلومات ترلاسه کول غواړئ، نو پهٔ کتابتون کښې پوښتنه وکړئ یا د کتابتون ویب سایټ ولولئ:
www.ouka.fi/kirjasto

Vipuvoimaa EU:lta 2007–2013
Euroopan unioni
Euroopan sosiaalirahasto
HOMELIKE OULU
OULU OMAKSI
OULUN KAUPUNGIN KIRJASTO maakuntakirjasto
Elinkeino-, liikenne- ja ympäristökeskus
OULU